مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکتر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۶/۱۵

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (یواتیایمه برخه)

### ډاکتر محمد اکرم عثمان

د توریـالي عثمان او اسحٰق عثمان ناسکه ورور، د غلام فاروق عثمان زوی په ۱۹۳۷ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۸ز کال کې له دولسم ټولګي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۶۲ز کال کې ئـې د کابل له پوهنتون څخه د حقوقو د پوهنځي د فراغت سند تر لاسه کړ. په ۱۹۶۳ز کال کې د عسکري د مکلفیت له دورې څخه معاف سو. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۷۱ز کال پورې ئـې په تهران کې حقوق او سیاسي علوم ولوستل او دکتورا ئـې ترلاسه کړه. خپل د دکتوار تیزس ئـې د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ د اړیکو په هکله ولیکـهٔ. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د هنر او ادبیاتو مدیر. د راډیو، نشراتو او د مطبوعاتو مرستیال رئـیس. لنډ داستانونه ئـې د راډیو افغانستان له لارې خپرېدل. په ۱۹۶۴ز کال کې ئـې په ادبیاتو کې د رحمٰن بابا ادبي جایزه تر لاسه کړه. په ۱۹۷۳ز کال کې د دهٔ د لنډو داستانونو یو ټولګه په روسیه کې راووتله. په ۱۹۸۰ز کال کې یو وسلوال کس وربانديې برید وکړ او یوازې قسماً ئـې روغتیا ومونده.

### عبدالشکور توریـالی عثمان

د والي غلام فاروق عثمان زوی د ۱۹۲۹ز کال په شاوخواوو کې زېږېدلی دئ. پخوانی دیپلومات چې په روم کې مقرر سوی وو. په ۱۹۸۰ز کال کې په پېښـور کې د صبغت الله مجددي له تنظیم سره یو ځای سو. د ډاکتر امان الله رسول له خور قدسیې سره ئـې وادهٔ کړی دئ.

### ډاکتر غلام نبي عثماني

په ۱۹۴۱ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۰ز کال کې د کندهار د احمد شاه بابا له لیسې څخه فارغ سوی دئ او په ۱۹۶۴ز کال کې د کابل پوهنتون د جیولوژي له څانګې د لیسانس په اخیستلو فارغ سوی دئ. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د کابل پوهنتون د جرمني اساتیدو اسیستانت. جرمني ته لاړ او په ۱۹۷۰ز کال کې ئـې خپله ماستري د بن له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. بېرته هېـواد ته راغی او یو کال وروسته بېرته جرمني ته لاړ او په ۱۹۷۶ز کال کې ئـې خپله دکتورا په جیولوژي کې تر لاسه کړه. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۸۲ز کال پورې د کابل پوهنتون د جیالوژي د پوهنځي د تدریسي کارمندانو غړی. وادهٔ ئـې کړی او دوه بچیان لري. اوس په جرمني کې اوسېږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت tasو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

**گل پاچا** : وګورئ : **ګل پاچا الفت** او وګورئ : **ګل پاچا وفادار**

## تاج مـحـمد پغماني

د علي محمد زوی دئ؛ علي محمد يو بلوڅ وو (چي له امير عبدالرحمن خان سره په بخارا کي وو او په پای کي د حکومت رسمي مأمور سو.) تاج محمد پغمانی په بدخشان کي د مشروطه غوښتونکو له ډلي سره يو ځای سو او د سراج الاخبار لپاره ئـي ليکني کولي. وروسته له دي چي عبدالرحمن لودين د امير حبيب الله خان (۱۹۰۱ – ۱۹۱۹ز) د وژلو هڅه وکړه، تاج محمد پغمانی هم د نيول سويو کسانو په منځ کي وو. ۱۶ مياشتي ئـي په زندان کي تـېـري کړی. (د عبدالرحمن لودين پلار کاکا سيد احمد هم نيول سوی وو چي مخکي ئـي ۳۲ کاله په زندان کي تـېـر کړي ول.) د نيول سوي تاج محمد (عبدالرحمن لودين، کاکا سيد احمد، شمس الدين، فيض محمد، ناصر او نورو...) له محکمي يوه شپه مخکي امير حبيب الله خان ووژل سو. اعليحضرت امان الله خان زندانيان آزاد کړل. د باندنيو چارو د ديپارتمنت، قطغن او هرات مشر. د چخانسور والي. تاج مـحـمد په ۱۹۲۹ز کال کي کابل ته ځکه راستون سو چي نادر شاه ورته د نوي مقام د ورکولو ژمنه کړې وه. خو په دې تورن سو چي ګڼي غوښتل ئـي د کوهدامن دوهم بغاوت راوپاروي. تاج مـحـمد پغمانی بلوڅ په توپ کي والوزول سو.

## سيد اکرام پـيـګـيـر

(د غوايي له پاڅون وروسته) د مرکزي کمـېـټي علی البدل او د انقلابي شوری غړی. د مرکزي کمـېـټي د اسنادو او روابطو د څانګي رئـيس. د ترکمن د کلتوري کمـېـټي افتخاري رئـيس. د سويل لويديځ زون آمر.

## غلام حضرت پيکان

(د غوايي له پاڅون وروسته) د پلار وطني ملي جبهي/ جبهـهٔ ملي پدر وطن د مرکزي شوری د نشراتو او تبليغاتو د څانګي مرستيال رئـيس.

## سيد طاهر شاه پيکارګر

د خلق ډيموکراټيک ګوند د مرکزي کمـېـټي علی البدل غړی. د انقلابي شوری غړی. د مرکزي کمـېـټي د DOAY سکرتر. د مرکزي کمـېـټي د ټولنيزو سازمانونو د سازماني نظم مرستيال رئـيس.

## علي شاه پيمان

د ۱۹۷۸ز کال د مي په مياشت کي د پوليسو او ژاندارم بولندوی. ويل کـېـږي چي د ۱۹۸۰ز کال د جون په نهمه اعدام سو.

## خليل الله پيمان

د کابل له وزير آباد څخه د نور الله زوی په ۱۹۲۵ز کال کي په کابل کي زېـږېـدلی دئ. د صنايعو په ښوونځي او د استقلال په ليسي کي ئـي زده کړې کړي دي. د کتابدار په توګه وروزل سو. د استقلال د ليسي ښوونکی. ليکوال او شاعر. په فرانسوي ژبې خبرې کوي. مورنی ژبه ئـي دري ده.

## محـمد حسن پيمان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د ۱۹۷۸ز کال د مي په میاشت کي د کرني د وزارت د کرنیزو تولیداتو د پراختیا رئیس. د مرکزي کمېټي او انقلابي شورى غړى. د کرني او د ځمکو د اصلاحاتو د وزارت مرستیال وزیر. ویل کېږي چي یو خلقى دئ. ووژل سو.

## علي گل پیوند

د ۱۹۷۸ز کال د مي په میاشت کي د اطلاعاتو او کلتور د وزارت مرستیال وزیر. د پینځمي گوندي حوزې منشي. د انیس د ورځپاني رئیس. په ۱۹۸۲ز کال کي د چکوسلواکیا سفیر.

## اختر محمد پکتیاوال

د گردیز بومي اوسېدونکى. د افغانستان د معارف په وزارت کي د یونسکو مشر. د ۱۹۸۰ز کال د اکتوبر په میاشت کي ئـي په بلگراد کي د یونسکو په عمومي کنفرانس کي د شوروي دولت غندنه وکړه او د سیاسي پناه غوښتونکى سو. اوس د امریکا په متحده ایالاتو کي ژوند کوي.

## ډاکټر محراب الدین پکتیاوال

په بلغاریا کيِکي ئـي تحصیل کړى دئ. د ۱۹۶۰ز لسیزې په اوږدو کي د مالیي په وزارت کي مدیر. د پلان جوړولو د دولتي کمېټي لومړى دولتي مرستیال. د ۱۹۸۲زکال د اپریل د میاشتي په ۵ نېټي د افغانستان بانک عمومي رئیس. د افغان – بلغاریا د دوستى د ټولني رئیس. مورنى ژبه ئـي پښتو ده.

## ډاکټر راز محمد پکتین

په ۱۹۳۹ز کال کي د پکتیا په زرمت کي زېږېدلى دئ. د کابل له دارالمعلمینو څخه فارغ سوى دى. په ۱۹۶۱ز کال کي شوروي اتحاد ته د لوړو زده کړو لپاره لاړ او په ۱۹۶۹ز کال کي ئـي د مسکو د انجنیرى له انستیتیوت څخه په انجنیرۍ کي خپل دیپلوم تر لاسه کړ. په ۱۹۶۶ز کال کي د خلق د گوند غړى سو. په ۱۹۶۹ز کال د کابل د پولیتخنیک د انستیتیوت مدرس سو. په ۱۹۷۳ز کال کي د لا نورو لوړو زده کړو لپاره شوروي اتحاد ته لاړ او په ۱۹۷۷ز کال کي ئـي خپله دکتورا تر لاسه کړه. یو ځل بیا ئـي د کابل د پولیتخنیک په انستیتیوت کي د مدرس په توگه کار وکړ. په ۱۹۷۸ز کال کي د اوبو او برېښنا د وزارت د مرستیال وزیر په توگه مقرر سو. د ۱۹۷۸ز کال د جولاى په میاشت کي شوروي اتحاد کي د سفیر په توگه مقرر سو. په ۱۹۸۰ز کال کي د اوبو او برېښنا وزیر او په ۱۹۸۳ز کال کي یو ځل بیا د اوبو او برېښنا وزیر. د خلق ډیموکراتیک گوند د مرکزي کمېټي او د انقلابي شورى غړى. په روسي او انگلیسي خبرې کوي. وادۀ ئـي کړى دى او دوه زامن لري.

## جمیله پلوشه

ږد کندهار د پخواني والي جنرال عبدالغني گردیزي لور. ویل کېږي چي یوه پرچمۍ ده او د خلقیانو د واکمنۍ پر مهال مخفي سوې وه. په ۱۹۸۰ز کال کي د مرکزي کمېټي على البدل غړې. د انقلابي شورى غړې. د مرکزي کمېټي د تبلیغ او ترویج او لارښووني د کمیسیون مرستیاله رئیسه.

## محمد اکبر پامیر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د ننګرهار د ګوشتي بومي اوسېدونکی. تحصیلات ئې په تورکیې کې کړي دي. د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنیار. له ۱۹۴۷ تر ۱۹۵۰ز کال پورې د ملي اقتصاد په وزارت کې د صنایعو رئیس. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۸ز کال پورې د کرنې د بانک رئیس. لیکوال او ډرامه لیکونکی. په ۱۹۶۵ز کال کې وفات سو.

## عزیز احمد پنهان

د شیر احمد صافي زوی په ۱۹۱۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په غزني کې د ښکلیو هنرونو په ښوونځي کې ئې زده کړې کړي دي. له ۱۹۳۵ تر ۱۹۴۱ز کال پورې د ښکلیو هنرونو د ښوونځي ښوونکی. د ملي بانک کارمند. د کابل ښاروالی کارمند. شاعر.

**نور بیا**

## دستګیر پنجشیری

د ملک داد محمد زوی په ۱۹۳۳ز کال کې په پنجشیر کې زېږېدلی دئ. په هرات کې...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلی رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ